# ستاسي د پنا غوښتلو مطلبه



# د انګلستان په هېواد کې د پنا غوښتلو مطالبه

د خپل کور یا ټاټوبي د پرېښودلو او سکاټلند ته سفر کول به ممکن ستاسو په ذهن کې یو ډېر ستونزمن کار وي او همدارنګه سکاټلند ته د رسیدلو مهال هم ممکن ستاسې لپاره ستونزمن وي. دا ځکه چې تر دې د مخه تاسې حتی د سکاټلند نوم هم نه وي اورېدلی. خو تر ټولو مهمه دا ده چې تاسې سکاټلند ته د رسېدلو څخه ورسته هلته نور مصئون یاست او همدارنګه هلته ډېر داسي سازمانونه او خلک شته چې له تاسو سره مرسته وکړي. کیدای شی چې لویان او ماشومان آسیب پذیر وي، یعني د هر ډول ګواښ سره د مخامخ کېدلو چانس یې زیات وي. خو دلته په سکاټلند کې ماشومان حقونه لري (د حقوقو برخه وګورئ)

کله چې تاسو سکاټلند ته ورسیږی، نو هلته به د ډېرو شیانو او بېلابېلو حالاتو سره مخ او همدارنګه د ډېرو نویو کسانو سره به مو لیدنه کتنه وشي. نو بنا پر دې هغه خلک چې غواړي له تاسو سره مرسته وکړي، هغوی په دې ټول وضعیت او د نوي ټولني سره ستاسو د اشنایی په هکله پوهیږي. نو هغوی به له تاسو سره په ډېر احتیاط اړیکه رامنځته او کار وکړي. خو په سر کې به تاسې ممکن د هغو کسانو چې له تاسې سره مرسته کول غواړي، باور ونکړئ. که فکر کوی چې تاسو له ګواښ سره مخ یاست، ټول هغه خلک چې له تاسو سره مرسته کوي باید ستاسو د رازونو Confidentiality[9] درناوی وکړي. امید دی چې د وخت په تیرېدلو سره به تاسې د هغوی سره خپل مهم معلومات شریک کړی تر څو هغوی پدې هکله له تاسو سره مرسته وکولای شي.



## ولې تاسې ته Unaccompanied Asylum Seeking Child (UASC) یا جلا شوی ماشوم وایي؟

ځیني خلک د مهاجرینو/ کډوالو کلمه نه کاروي او په عوض یې د پنا غوښتونکو کلمه کاروي. دا ځکه چې هغه کسان چې د پنا غوښتلو په تکل کې وه او اوس مهال یې پنا اخیستې ده مهاجر او هغه کسان چې د پنا غوښتلو په تکل کې دي خو لا تراوسه یې پنا نده اخیستې او په هکله یې د اړونده هېواد د تصمیم نیولو انتظار کوي د Asylum Seeker په نامه یادېږي . خو د ماشومانو لپاره په دې هکله ځانګړي اصطلاحات کارول کیږي، یوازې شوی یا جلا شوي ماشومان او 'unaccompanied asylum seeking children' (UASC)

د UASC Home Office[19] تعریف یا پیژندنه داسې کوي.

*UASC unaccompanied asylum-seeking child*
*هغه څوک دی چې د پنا غوښتلو په حالت کې دی (یا که دا حالت روښانه نه وي) هغه څوک چې عمر یې د اتلس کلونو څخه کم وي او داسې ښکاري چې د خپلو حقونو له مخې د پنا غوښتلو مطالبه کوي او هیڅ غټ خپلوان guardian[17] یې په دې هېواد کې نه وي.*

لکه څرنګه چې تاسو وینی دلته ستاسې د رارسېدلو په هکله او دا چې تاسې باید څه وکړی ډېر شرایط/ اصطلاحات یې د بیانولو لپاره شتون لري. داسې به ښکاري چې خلک د ستاسې د موقف د ټاکلو او پېژندګلوي لپاره تر زیاتي کچې اماده وي. او پر دې به پوهېږي چې د انسان په ژوند کې مهاجرت یوه داسې تجربه ده چې خلک ورسره مخ کیږي، نه دا چې هغوی یې پخپله د ځان لپاره غوره کوي.

کیدای شي چې قانون وېروونکی او پیچلی وښکاري لیکن پدې اړوند داسې قوانین شتون لري چې ستاسې د خوندېتوب او ملاتړ لپاره کار کوي. د ”ستاسو حقوق“ برخه وګورئ

*د اړینو الفاظو او اصطلاحاتو د خلاصې معناوې د لاربنود ترشا وګورئ.

## پناه غوښتل او قانون:

د انګلستان په هېواد کې چې سکاټلند یې یوه برخه ده تاسې به په هغه صورت کې د مهاجر یا کډوال په بڼه وپېژندل شی که چېرې تاسې او یا ستاسې کورنۍ د دې لاندې ذکر شویو دلیلونو له جملې څخه د هر یوه پر بنسټ تر تعقیب لاندې وي او د هغه د شتون له مخې نشی کولای چې خپل کور یا ټاټوبي ته ستانه شئ.

- نژاد
- مذهب
- ملیت
- که تاسې او یا ستاسې کورنۍ د یوه ځانګړې ډلې غړي یاست او یا د کومې خاصې سیاسي عقیدې خاوندان یاست.

دغه دلیلونه د نړیوال قانون په یوه برخه کې ځاي لاري. چې د ملګرو ملتونو د 1951م کال د مهاجرینو/ کډوالو د کنوانسیون په نامه یادیږي.

دغه قانون ډېر محدود دئ او یوازې د تعقیب یا ځورونې ډېر ځانګړي ډولونه تر خپل پوښښ لاندې نیسي. کیدای شی چې تاسې او یا ستاسې کورنۍ د بیلابیلو دلیلونو له مخې تعقیب یا ځورول کیږي. که چېرې د انګلستان حکومت Home Office19 فکر کوي چې تاسې باید د کوم بل دلیل له مخې دلته مصئونیت ومومۍ نو بیا دوی به تاسې ته د موقتي اوسیدنې لپاره یوه بله فورمه درکړي. (دا موضوع به ستاسې د پنا په هکله د تصمیم نیولو په برخه کې وروسته تشریح شي)

> ”زه له پاکستان څخه ګلاسګوف ته راغلم، هر شی راته مختلف و، ما د یوازېتوب احساس کاوه، د دې هېواد په ژبه نه پوهېدم او نه پوهېدم، چې څه وکړم. اوس زه وروسته تر دې ډېر ښه شوی یم، چې ښوونځي ته ځم، ملګري لرم او غواړم چې د ژبې زده کړه پیل کړم او اوس زه ډېر خوښ یم.“ - Zia




## د پناه موندلو په هکله پوهاوی یا د پوهېدلو پروسه:

کیدای شي چې د پنا غوښتلو پروسه ډېره پیچلي وي نو پدې هکله ستاسو د ښه پوهاوي لپاره د دې بستې تر شا یو دیاګرام شتون لري.

## د پنا غوښتلو لتون او مطالبه:

په عامه توګه دغه ډول مصئونیت او خوندیتوب غوښتلو ته (د پنا غوښتلو مطالبه) وايي چې په دې اړوند زیات شمېر پیچلي قوانین او مقررات شتون لري. د Home Office[19] څانګړې برخه چې د UK Border Agency (UKBA)[21] په نامه یادیږي، چې ستاسو د قضیې د څېړلو مسئولیت په غاړه لري. دا موضوع ویروونکې ښکاری خو ټول اړونده خلک به پدې هکله مرسته کوي تر څو تاسې و پوهېږی چې هغوی ستاسو لپاره لارښوونې او حمایت برابروي.

## څه ډول د پنا غوښتلو مطالبه تر سره شي:

د پناه غوښتلو لپاره مطالبه کول اسانه کار ندی او کیدای شي چې کاملاً ستاسې د مغشوشتیا سبب شي. ځکه چې یو شمېر خلک به ستاسې د قضیې او حالت د بیانولو په هکله رنګارنګ پوښتنې کوي لکه د Legal representative[24] او UK border Agency (UKBA)[21] د دفترونو خلک. هغه قوانین او مقررات چې له مخې یې ستاسې قضیه څېړل کیږي ډېر پیچلي دي او باید ستاسې د Legal representative[24] هغه قوانین تاسې ته په ښه توګه تشریح کړي. که پدې هکله تاسې پوښتنه لری او یا و نه پوهیږی نو دا ډېره مهمه ده چې په هکله یې پوښتنه وکړی او خپل ځان د پوهولو لپاره بیا ځلي پوښتنه ډېره ګټوره ده.

*د ځینو الفاظو او اصطلاحاتو د خلاصې معناوې د لارښود ترشا وګورئ.

## Legal representative تاسې ولې ته اړتیا لرئ؟

شاید تاسې تر دې دمه هیڅکله Legal representative[24] ته اړتیا نه وي پیدا شوې او همدرانګه حتی تاسې نه پوهیږې چې هغه ستاسو لپاره په دې اړوند کوم کارونه تر سره کولای شي. کله چې تاسې د پناه غوښتلو مطالبه کوئ باید په دې خبره وپوهیږئ چې که تاسې د یوازې/ جلاشوي ماشوم په توګه د پناه غوښتنه کوئ نو بیا د قانوني مرستې لپاره پیسو ورکولو ته اړتیا نلرئ. تاسې چې Legal representative[24] د یوه قانون پوه یا مشاور په حیث هم پیژنئ، ستاسې سره به په تصمیم نیولو کې مرسته وکړئ. مګر هغوئ نشي کولای چې ستاسې په استازیتوب تصمیم ونیسي. هغه یوازې په دې هکله مشوره درکولای شي، اختیار ستاسو په لاس کې دئ او هر څه چې غواړې تر سره کړئ Legal representative[24] ته به وایئ.

ټول legal representatives[24] باید په دې موخه ولرې چې له تاسو سره په مسلکې بڼه کار وکړي. تاسو کولای شې مخامخ قانوني ادارې ته یا هم د یوې موسسې له لارې چې
*Office of Immigration Services Commissioner* (OISC)
نومیږي، شکایت وکړئ.

که تاسې د خپل Legal representative[24] سره خوښ نه یاست تاسې کولای شئ، چې د Scottish Refugee Council سره د مرستې او د Legal representative[24] د بدلولو په موخه اړیکې ونیسئ.

تاسې کولای شئ، د دې ادارو په اړه د نورو معلوماتو لپاره د دې پاکټ شاته د **لاربنود** برخې ته مراجعه وکړئ.

## آیا ته د خپل Legal representative[24] حقوقي استازي څخه خوشحاله نه يې؟

که چېرې تاسې د خپل legal representative[24] څخه خوښ نه یاست او فکر کوی چې هغه تاسې بد معرفي کوي یا مو په ښه توګه استازېتوب نه کوي نو د دې سازمان سره اړیکه ټینګه کړی. تر څو هغه د سم کار لپاره وهڅوي او یا یو بل legal representative[24] درته ومومي:

## OISC (Office for the Immigration Services Commissioner)

د دې سازمان مسئولیت د مهاجرت د سلا مشورو د عالي کیفیت یقیني کول دي. د دې سازمان په ویب سایټ کې په یو زیات شمېر ژبو معلومات تر لاسه کیدلی شي.
www.oisc.org.uk

## The Law Society of Scotland

دغه سازمان د ټولو وکیلانو چې په سکاټلند کې کار کوي مسئولیت لري. دغه سازمان د هغو Legal representative[24] لست لري چې د خپل ویب سایټ له لارې د مهاجرت/ کډوالی د سلا مشورو خدمتونه تر سره کوي. www.lawscourt.org.uk

*د اړینو الفاظو او اصطلاحاتو د خلاصې معناوې د لاربنود ترشا وګورئ.

## Interpreters

Interpreters[22] که انګریزي مو مورنۍ ژبه نه وي باید د
څخه کوم چې ستاسي په ژبه پوهیږي غوښتنه وکړئ چې تاسي ته
خبرې وژباړي تر څو تاسي په جریان پوه کړي. تاسي کولای شی
چې د نارینه/ ښځینه Interpreters[22] څخه مرسته وغواړی.



### ستاسي د screening په نامه مصاحبه یا انټرویو څرنګه تر سره کیږي؟

دUK Border Agency (UKBA)[21] به له تاسي سره خبرې
وکړي او تاسي به خپل Case Owner[6] ته معرفي کړي چې دا
به د UK Border Agency (UKBA)[21] له خوا هغه شخص وي
چې ستا د پنا غوښتلو د قضیې مسئولیت پر غاړه لري. پدې اړوند ته
کولای شي چې د نارینه یا ښځینه Case owner[6] ځان ته غوره
کړې. نومړی به له تا څخه د شخصي معلوماتو، تېر شوي ژوند او
دا چې څرنګه مو سکاټلنډ ته سفر وکړ، پوښتنه وکړي. سربېره پر دې
به ستاسي عکسونه او د ګوتې د مهر نمونه واخلي. دا د دې لپاره نده
چې تا کوم غلط کار ترسره کړی دی، بلکه دا د راجستر د پروسي
یوه برخه تشکلیوي.

Application Registration Card (ARC)
به هم درکړل شي. دا کارت ډېر مهم دی او د پېژندن کارت په توګه
کارول کیږي. کوښښ وکړی چې هغه خوندي وساتی او د نه ورکېدلو
څخه یې ځان ډاډه کړی. د کارت د تر لاسه کولو څخه مخکې ځان
ډاډه کړی چې د نوم حروف او د زېږیدلو نېټه یکي صحیح لیکل
شوېده. که کومه غلطي شتون لري ژر تر ژره یې د مسئول کس
له خوا اصلاح کړی ، دا ځکه چې وروسته یې بدلون یا اصلاح
کول ستونزمن دي. او که چېرې په معلوماتو کې غلطی شتون ولري
ستاسي د پنا غوښتلو په پروسه کې ستونزې رامنځ ته کوي.





د screening په نامه انټرویو د څو ساعتونو لپاره دوام مومي
او زیاتي حوصلې ته اړتیا لري. نو باید د هغه د ترسره کولو
لپاره پوره تیارۍ ولري. کوښښ وکړی چې د انټرویو له لارې د
خپل Legal representative[24] سره او یا ټولنیز کارکوونکي
social workers[30] سره خبرې وکړی. کیدای شي چې ځیني
کسان د انټرویو د ترسره کولو لپاره د خپل ځان سره بل کس راولي
چې د مشر په توګه مسئولیت ولري او هغه به یوازې ستاسې حمایت
کولای شي. خو ستا په عوض خبرې نشي کولای. که چیرې تاسې
د انټرویو په هکله اندیښنه لرئ، د هغه چا سره خبره وکړی چې له
تاسې څخه ملاتړ کولای شي.

کیدای شي هغه څوک چې چې ته یې دې هېواد ته راوستلی یې
لارښوونه وکړي چې ته باید کومې خبرې وکړې او کومې ونکړې
او ته د نومورې کس د لارښوونې څخه پرته د نورو شیانو د ویلو
له امله وېرېږې. نو پدې اړوند باید په یاد ولرې چې دلته ځیني
سازمانونه او خلک شتون لري چې ستاسو د سوکالۍ د موندلو په
هکله علاقمندي ښیي. نو پنا پر دې کولای شې چې د خپلو اندېښنو
په اړوند د هغو سره خبرې وکړی. ستاسې د
Legal representative[24] هم له دغو کسانو څخه دی. تر ټولو
ښه خبره دا ده چې همېشه ریښتیا ووایې او کوښښ وکړی چې د
امکان تر حده کره او زیات معلومات ورکړئ.

که چیرې ستاسې مورنۍ ژبه انګریزي نه وي نو باید
Interpreter[22] ولرئ. چې د دې ښځینه یا نارینه ژباړونکي د
غوره کولو په هکله خپل Legal representative[24] او یا
social worker[30] سره خبرې وکړی. او همدارنګه هغه ته د
کومې ژبې ژباړونکی interpreter[22] مو چې پکار وي ووایاست.
او هرکله چې تاسې خپل د ژباړونکي د کار څخه خوښ نه یاست د
انټرویو په وخت کې د دې خبرې یادونه وکړئ.

ستاسو انټرویو به یادداښت/ ریکارډ کیږي او دا کومه د اندیښنې
خبره نده چې دا کار په ستاسې سره د هغه په هکله چې مخکې مو
ویلي دي، مرسته وکړي او په دې ډول په ستاسو په خبرو کې یو
رنګی پایښت رامنځ ته شي. Legal representative[24] به د
دغه یوه کاپي ځان سره وساتي یا واخلي.

*د اړینو الفاظو او اصطلاحاتو د خلاصې معناوې د لارښود ترشا وګورئ.

## ته Home Office ته راپور ورکول

کیدای شي چې ستاسې څخه غوښتنه وشي چې خپل راپور تر ټولو نږدې Home Office[19] ورکړی چې د راپور ورکولو د دفعاتو د شمېر په هکله به ستاسې Case owner[6] تصمیم نیسي. لیکن د دې تصمیم نیولو په هکله به له تا او ستا له social worker[9] سره خبره کوي.

## Statement of Evidence Form (SEF)
## د فورمې ډکول

د screening انټرویو د ترسره کولو پر مهال به دا فورمه تاسو ته درکول کیږي او تاسې باید دغه فورمه د خپل Legal representative[24] په مرسته د 20 کاري ورځو په دوران کې ډکه کړی. ډاډ ترلاسه کړی چې د دغې فورمې د ډکولو د آخري نیټې پر اهمیت ستاسې هر مرسته کوونکی پوهیږي.

SEF باید په انګریزي ژبه خانه پوري شي چې په دې کار کې به له تاسې سره Legal representative[24] او همدارنګه د اړتیا په صورت کې به interpreter[22] هم همکاري کوي. دا مهمه ده چې باید پدې فورمه کې ستا د قضیې په هکله ټول اړین معلومات ولیکل شي تر څو د هغې په واسطه ستا Legal representative[24] وکولای شي چې ستا لپاره د پنا غوښتلو یوه ښه قضیه جوړه کړي.


Home Office
BUILDING A SAFE, JUST AND TOLERANT SOCIETY

Statement of Evidence Form - Children
(for self-completion)

NOTES TO HELP YOU COMPLETE THE FORM

- Before you complete the form, please read these notes carefully. They help you to complete the form and to understand how we treat your application.
- The form asks you to write down why you fear returning to your country and why you claim asylum in the United Kingdom (UK). Please answer in English, using your own words. If you use any other language you must give an English translation.
- If you provide any supporting information, it must be in English or translated into English.
- This form is free of charge.

**When to return the form:**

The completed form must reach us on or before 03/05/2006__________ [day, month, year]

**How to return the form:**

دا مهمه ده چې پدې فورمه کې ستا د قضيې په هکله ټول اړين معلومات موجود وي ځکه چې د نوموړو معلوماتو د کارولو په واسطه ستا Legal representative[24] کولای شي چې د پنا غوښتلو لپاره يوه ډېره ښه قضيه رامنځ ته کړي.

نو له دې امله ښه به دا وي چې د خپل Legal representative[24] سره د فورمې د ډکولو په خاطر د ليدنې کتنې څخه تر مخه يوه اندازه زيات وخت د ښو او مناسبو معلوماتو د برابرولو لپاره مصرف کړئ. کوښښ وکړئ چې خپل حالات او پيښې په ښه توګه بيان کړی او همدارنګه د هرې پيښې د رامنځ ته کيدلو نيټه هم په ګوته کړی. سربېره پردې تاسو کولای شی چې په دې اړوند ځينې انځورونه هم رسم کړی لکه ستاسې د کور انځور، د اوسيدلو د سيمو انځور، د خلکو د لباس او کاليو ځرنګوالي او داسې نور. او يا حتی کولای شی چې د خپلې کورنۍ شجره وکاږی. Family tree[14].
که چېرې ستاسې ځينې تېر شوي حالات او کيسې زړه بوګنوونکي هم وي نو بيا هم کولای شی چې دا کيسې يو چاته ووايې. خلکو ته د دې کيسو په اورېدلو حيرانتيا او پريشاني نه پيدا کيږي  بلکه هغوی کولای شي چې په دې اړوند له تاسې سره مرسته وکړي. تر ټولو مهمه دا ده چې که چېرې تاسې خپل تېر يادونه او پيښې د ريښتياو پر بنسټ بيانوی، نو په هره اندازه چې تاسې خپل حالات بيانوی خلک به ورته غوږ نيسي او بارو به پرې کوي.

که چېرې Home Office[19] تاسې د ماشوم په بڼه پيژني دا په دې معنی ده چې د asylum Process[3] له مخې به ستا درناوی کيږي او له تا سره به د يوه ماشوم په حيث چلند کيږي.  همدارنګه دا په دې معنی هم ده چې ستاسې د بيان د اخيستلو لپاره به د بېلابېو پاليسيو او کړنو څخه ګټه اخيستل کيږي او ستاسې هره انټرويو ، د مثال په توګه screening انټرويو به د ځانګړي روزل شوي پرسونل په واسطه تر سره کيږي.

دا ډېره مهمه ده چې هر څوک ستاسې حقونو ته د يوه بشر او ماشوم په بڼه درناوی کوي. ته حقونه لرې او دا بايد د هر چا له خوا و پيژندل شي. ته يوه ښه روزل شوي او مسلکي interpreter[22] د درلودلو حق لرې چې هغه له تاسره په هر حالت کې په ځانګړې توګه په مهمو غونډو او انټرويو ګانو کې مرسته وکړي. او سربېره پر دې UK Border Agency (UKBA)[21] سره د هرې انټرويو د ثبت کولو حق هم لرې. چې بيا وروسته کولای شی چې د اړتيا په صورت کې دا ثبت شوې خبرې د خپل legal representative[24] سره شريکې کړې.



*د اړينو الفاظو او اصطلاحاتو د خلاصې معناوې د لاربښود ترشا وګورئ.

ځيني وخت يو تن ته د پنا ورکولو لپاره په تصميم نيولو کې زيات وخت تيريږي نو کوښښ وکړه چې انديښنه ونکړې. تر هغه چې ستا Legal representative[24] له تا سره ملګرى وي او هر وخت ستا د قضيې په باره کې تازه خبر درکوي او ته پرې اطمينان لرې نو کوښښ کوه چې د صبر او زغم څخه کار واخلې.

لاندې د تصميم نيولو بېلابېل ډولونه چې ممکن يو يې ستا په هکله وي، ذکر شوي دي.

## Refugee Status

دا ډول حالات يا برخليک هغه چا ته ورکول کيږي چې د Home Office[19] د تصميم له مخې مهاجر وپيژندل شي او د *1951 Refugee Convention* پر بنسټ د ټاکلو مشخصاتو لرونکى وي. هغه څوک چې Refugee Statues[28] حالت لري هغه ته هم د مهاجر حالت لرونکى ويل کيږي. او د انګلستان په هېواد کې د لنډې مودې Limited Leave to Remain اجازه ورکول کيږي. چې دغه ډول اجازه Limited leave to Remain وخت تر پنځو کلونو پورې وي.

## Humanitarian Protection

دا حالت هغو خلکو ته اطلاق کيږي چې د هغوى د Refugee Statues[28] سره سمون نه خوري. خو خپلو هېوادونو ته نشي ستنېدلاى ځکه چې هغوى په خپل هېواد کې جدي ګواښ، د سر خطر او داسې نورو سره مخ کيږي. دا ډول امتياز د پنځو کلونو لپاره وي او د نومورې مودې د ختمېدلو څخه وروسته يې په قضيه بيائلي کتنه کيږي.

# Discretionary Leave <

دا حالت په هغو خلکو سمون خوري چې هغوی Refugee Status[28] د سره سمون نه خوري اودا حالت په هغو خلکو سمون خوري چې هغوی د مشخصات يې نه وي پوره کړي. او همدارنګه د انګلستان د حکومت له خوا هغوی ته د کوم بل Humanitarian Protection[20] دليل له مخې په موقتي توګه د اوسيدلو اجازه ورکړل شوې وي. دا اجازه به په ډېرو محدودو حالاتو کې ورکول کيږي
(چې عمر يې $17\frac{1}{2}$ کاله وي)


6409629

Home Office

Home Office Immigration and Nationality Directorate
NOTICE OF DECISION
REJECTION OF ASYLUM CLAIM AND
GRANT OF LEAVE TO ENTER OR REMAIN

Home Office Reference :

To: – Congo Democratic Republic – May 1969

You applied on 15/09/2005 under paragraph 327 of HC 395 as amended (the Immigration Rules) for leave to remain in the United Kingdom on the grounds that it would be contrary to the United Kingdom's obligations under the United Nations Convention and Protocol relating to the Status of Refugees for you to be removed from or required to leave the United Kingdom. I have refused your application under paragraph 336. Your claim for asylum has been recorded as determined on 07/11/2005.

I have considered whether you should be granted asylum in the United Kingdom in accordance with paragraph 334, but I am not satisfied that you meet the criteria. However, I have decided that the Secretary of State's discretion should be exercised in your favour and that you should be granted limited leave to enter the United Kingdom outside the Immigration Rules in accordance with the published Home Office Asylum Policy Instruction on Discretionary Leave.

Full details for these decisions are provided in the attached letter.

*acting on behalf of the Secretary of State*

RIGHT OF APPEAL

You are entitled to appeal this decision under section 83(2) on the grounds that removal from the United Kingdom would breach the United Kingdom's obligations under the Refugee Convention. A notice of appeal is enclosed which explains what to do and an Asylum & Immigration Tribunal leaflet which explains how to get help.

ONE-STOP WARNING – STATEMENT OF ADDITIONAL GROUNDS

- You must now make a formal statement about any reasons why you think you should be allowed to stay in this country. This includes why you wish to stay here, and any grounds why you should not be removed or required to leave.
- The statement should be made on the form NOTICE OF APPEAL if you are appealing this decision. If you are not appealing but have further reasons you wish us to consider, you should send them to

ACU 1, Lunar House, 40 Wellesley Road, CROYDON, CR9 2BY

to reach us within the next 10 working days (5 working days if you are detained).

ACD 2047 04/05

1 of 2

که چېرې تاسو ته د Discretionary Leave[11] او Humanitarian Protection[20] اجازه حاصله شوي وي او همدارنګه ستاسو لپاره د ردوني د دليلونو د روښانه کولو لپاره د Home Office[19] څخه مکتوب هم صادر شوي وي کوم چې په هغه کې ستاسو څخه د پنا غوښتلو د مطالبې د ردولو په باره کې پوښتنه شوي وي
*1951 UN Convention on Refugees*
(د UN1951 کنوانسيون له مخې) نو د داشان مکتوب لوستل به ستاسو لپاره ممکن مشکل او پريشانی سبب شي، خو لوستل يې ضروري دي. خو بيا هم ستاسو Legal representative[24] بايد هغه تاسې ته ولولي او موضوع يې درته تشريح کړي.

## د Appeal کول:

تاسو يوازې هغه وخت Appeal[1] کولای شي، که چېرې تاسو ته Discretionary leave[11] د دولس مياشتو څخه د زيات وخت لپاره درکړل شوی وي. نو تاسو به د خپل appeal[1] فورمه واستوئ. تاسې او ستاسو استازی او social worker[30] به د نومړې فورمې د ډکولو په هکله بحث وکړئ، دا چې فورمه ډکه شي که نه او يا دا چې ځانګړې محکمې ته د پنا اخيستلو قضيه وړاندې شي يا خير.

*د اړينو الفاظو او اصطلاحاتو د خلاصې معناوې د لاربنود ترشا وګورئ.

### د رسمي اسنادو خوندي ساتل:

کله چې تاسې د اوسېدلو هر ډول اجازه حاصله کړئ نو بيا تاسو ته د پېژندنې مکتوب او Immigration Statues Document يا ISD درکول کيږي. د دې اسنادو خوندي ساتل ډېر ضروري دي او هغه بايد هيڅکله ورک نشي. تاسو بايد هغه خوندي وساتئ او يوازې د هغه فوتوکاپي له ځانه سره وګرځوئ.


Home Office
Immigration and Nationality Directorate

IMMIGRATION STATUS DOCUMENT

Discretionary Leave

The Secretary of State has granted the person named on this document leave to enter or remain in the United Kingdom for a reason not covered by the Immigration Rules, in accordance with the Home Office Asylum Policy Instruction on Discretionary Leave.

The period for which leave to enter or remain in the United Kingdom has been granted is indicated in the endorsement.

While the period of leave indicated remains valid, the holder is able to work in the United Kingdom without any immigration restrictions limiting the type of work they can undertake.

## د اوسېدلو د وخت د غزولو غوښتنه/ Active Review:

که چېرې تاسې ته د لږې مودې د اوسېدلو لپاره فورمې درکول شوي وي (د بېلګې په ډول Discretionary Leave[11]) تر څو چې ستاسو عمر 17½ کلو ته رسيږي، نو تاسو بايد د وخت غزولو د غوښتنې په هکله فکر وکړی مخکې له هغې چې د اوسېدلو د اجازې وخت پوره شي. دا په دې معنی چې تاسې د انګلستان له هېواد څخه د اوسېدلو لپاره د لږ زيات وخت غوښتنه وکړی.

که چېرې تاسې د وخت د غزولو په لټون کې ياست نو تاسې بايد د اوسېدلو د اجازې د وخت پوره کيدلو څخه لږ تر لږه دوه مياشتې مخکې د خپل Legal representative[24] سره اړيکي ټينګې کړی. چې بيا په د ابتدايي تصميم نيولو څخه وروسته ستاسو Legal representative[24] به ستاسې قضيه ختمه کړي. چې په دې صورت کې په تاسې نوموړي شخص يا رسمي اداري ته د تللو اړتيا نلرئ.

دا ستاسي مسئوليت دی چي خپل Legal representative[24]
سره اړيکه ونيسي او داکار بايد د اجازت نامې د وخت د ختميدلو
څخه وړاندې تر سره شي. که چېرې مو داسې ونکړل نور به نو
په سکاټلند کې يو قانوني اوسېدونکی نه ياست او ستونزه په درته
رامنځ ته شي.

Active Review يا د وخت غزول دوه برخې لري: يوه دا چې
تاسې بايد ثابته کړی چې په دې هېواد کې مو د خپل استقرار لپاره
ډېر کوښښ کړی دی تر څو د اسکاټلند د ژوند سره سمون ومومئ
د مثال په توګه، انګريزی مو زده کړې ده او خپلې زده کړې
پر مخ وړی. دويم دا چې لا تر اوسه مو خپل هېواد د ستاسې د
ورتګ لپاره ډېر خطرناک دی.



## د شواهدو او دلايلو برابرول :

تاسو بايد د خپلې مودې د غزولو درخواست څخه مخکې د
درخواست لپاره تياری ونيسئ چې په دې اړوند ځيني کسان
اسناد او شواهد لري. د بېلګې په ډول د خپلو فعاليتونو او لاس ته
راوړنو اسناد لری، لکه د ښوونځي کارټ، د ښوونځي يا پوهنتو ن
شهادت نامه، د تنخوا رسيد، د ښوونکي معرفي خط، عکسونه او
نور هغه اسناد او شواهد چې د ټولنيزو کارونو د ترسره کولو په
باره کې مو تر لاسه کړي دی.

*د اړينو الفاظو او اصطلاحاتو د خلاصې معناوې د لاربښود ترشا وګورئ.

د اسنادواو شواهدو د بستي جوړول تاسي سره په سکاټلند کي د زياتې مودې د پاتې کېدلو په هکله د فکر کولو وړتيا درکوي د دې راټولو شويو اسنادو او شواهدو په هکله د هغه چا سره چې ستاسي سره د اوسېدلو د وخت په غزيدلو کې مرسته کولای شي په تصميم نيولو کې هم کومک کولای شي.

**د خلکو څخه وپوښتئو چې تاسې څه غواړئ**
کيدای شي چې ډېر خلک ستاسي په قضيه کې کار ولري (ستا لپاره هلې ځلې کوي) نو تاسې په آسانۍ سره مغشوش کيدلای شي، ستاسي قانوني استازی Legal representative[24] ستا لپاره فعاليت کوي خو بيا هم ستاسي  سره مشوره کوي دا ستاسي د ژوند پورې اړه لري نو بايد ډاډه تر لاسه کړی چې تاسي مناسبه مرسته او ملاتړ تر لاسه کوئ. نو تاسو بايد د خلکو سره د خپلو تصميمونو په هکله خبرې وکړی او خپل نظر د هغو سره شريک کړي.

## که ستاسي د پنا غوښتلو درخواست په قطعي توګه رد شي، نو بيا څه پېښېدلای شي؟

دا به ډېره پرېشانه کوونکی حالت وي خو بيا هم هلته خلک شته چې ستاسو سره مرسته وکړي تاسې او ستاسي

Legal representative[24] به د appeal کولو په هکله تصميم ونيسي، سره له دې چې دا کار به ډېر ستونزمن او پيچلی وي او زيات وخت به  په بر کې ونيسي. پدې وخت کې ښه قانوني مشوره ډېره مهمه ده، که په څه نه پوهېږي، پوښتنه وکړه که تاسې appeal کوی نو بيا تاسې او ستاسو

Legal representative[24] بايد ځانګړې محکمې ته چې د Asylum and Immigration tribunal (AIT[2]) په نامه ياديږي مراجعه وکړئ.



هرڅوك چي وغواړي له تاسي سره به مل وي او
كه ستا اړتيا پيښه شي د هر وخت لپاره interpreter[22]
موجود دى. Legal representative[24] به په محمكه
كي اړونده آسانتياوي ستا لپاره برابر كړي او په همدې ډول به يو
بې پرې قاضي د ستا د قضيې په اړوند تصميم ونيسي چي ستا د
پنا غوښتلو لپاره به اجازه مومي يا خير

## كه تاسي نور اپيل نه شي كولاى بيا په څه كيږي؟

كه چېرې تاسي Appeal Rights Exhausted په موقف كي
قرار لرى نو بيا كوم ملاتړ چي تاسي د خپلي قضيې په هكله
تر لاسه كوى هغه بايد دوام ومومي . Home Office[19] تاته
مكتوبونه درليږي او دهغې پواسطه به تا خپل هيواد ته د ستنيدلو
لپاره هڅوي. نو بيا تاسي بايد ددې ډول تصميم نيولوپه هكله د فكر
كولو په خاطر ځينى مشورې تر لاسه كړى. په ياد لرى چي خپل
هيواد ته د ستنيدلو تصميم به په هغه صورت كي نيول كيږي چي
هغه هيواد دستاسي لپاره مصون وي. او ددې وضعې د معلومولو په
خاطر د ګوابښونو په هكله بررسى او ارزيابى ترسره كيږي.

د ستا په وړاندې د حكومت مسئوليت د پنا غوښتلو د مطالبې
رد كيدلو سره نه ختميږي او دا خبره بايد يقينى شي چي دا
كار تاسي د خطر سره نه مخامخ كوى. پدې قضيه كي بايد
Social worker[31] په فعاله توګه راښكيل وى. سر بيره پردې
نور سازمانونه بايد هم پدې هكله خپله علاقمندي وښيي او تاسي
بايد د هغو سره د خپلې وضعې د څيړلو په خاطر اړيكه و نيسى
د بيلګى په ډول د Scottish Refugee Council.

> د كور څخه لرى پاته كيدل ډېر ګران كار دى مګر موږ هلته خوندي
> نه يو ډېر خلك چي زما په شان دلته راځي لكه زه چي د يوګندا څخه
> راغلى يم ، نه پوهيږي چي بايد څه وكړي. موږ ددې خلكو سره د
> اړيكو موندلو او او ددوى د ژوند د ځرنګوالي په هكله هيڅ بلدتيا نه
> لرو. - Aisha

*د اړينو الفاظو او اصطلاحاتو د خلاصي معناوې د لاربښود ترشا وګورئ.

The International Organisation for Migration د (IOM) هغه سازمان دی چې خلکو سره خپل هېواد ته د بیرته دستنېدلو په خاطر مرسته کوي. خو سره له دې هم ځیني وخت هېواد ته بېرته ستنېدل آسانه کار نه وی نو تاسې باید په ډېره ځیرکی سره خپل تصمیم و نیسی.

د زیاتو معلوماتو لپاره د **لاربنود کتاب** برخه وګوری.

## که چیرې ستاسو د پنا غوښتلو د مطالبی په هکله مثبت تصمیم و نیول شي نوبیا؟

که چیرې تاسو ته د پنا اخیستلو امتیاز در په برخه شو نو بیا Social Work Service[31] له تاسې سره هغه شان مرسته کوي چې د نورو خلکو لپاره شوی وي . تاسې د خپل پلان د جوړولو او پلي کولو حق لری. ډاډ تر لاسه کړی چې تاسې د خپلي خیر خېګنې او ګټې سره سم پلان جوړوی او په هغې کی ستاسې امیدونه او موخی ځای لري ځکه چې دا ستا راتلونکې ده.

پدې اړوند نور سازمانونه هم مرسته کوي لکه Scottish Refugee Council له تا سو سره د د راتلونکی په هکله چې څه باید وکړی مرسته کوي د مثال په ډول هغوی دستاسې لپاره د زده کړو، روزنو او کار موندلو د فرصتونو د برابرولو کې ملاتړ کوي او سربېره پردی ستاسې سره د استوګنځي په موندلو او نورو کارونو کې مرسته کوي . همدارنګه هغوی کولای شي چې تاسې نورو سازمانونو ته د حمایت د ترلاسه کولو لپاره ور و پیژني . په یاد ولری چې تاسې حق او وقار لری د هر څه د موندلو او کارولو تکل کوی.

## د سفر اسناد

که چېرې تاسو ته د Refugee Status[28] حالت در په برخه شوی وي نو بیا تاسې کولای شی چې د سفر د اسنادو د تر لاسه کولو لپاره غوښتنه و کړی نومړی اسناد د پېژندن پاڼې په شان کار کوي او تاسې کولای شی چې د هغې د کارولو له لارې د سیمې نورو هېوادونو ته سفر وکړی. په یاد و لری چې دا سند پاسپورت نه دی او تاسې نه شی کولاي چې د هغی پواسطه خپل هېواد ته سفر وکړی ځکه چې هغه هېواد اوس مهال د ستاسې لپاره مصون نه دی . ځینی نور هېوادونه هم د مخې سره تاسې ته نومړی هېواد ته د ننوتلواجازه نه درکوي . او تاسې به ویزا ته اړتیا و لری کوم چې تر لاسه کول یی یو څه ګران دي.

ددې په هکله د خپل Legal Representative[28] او یا Scottish Refugee Council سره خبری وکړی او هغوي به تاسې ته پدې هکله مشوره درکړي.

که چېرې تاسې ته د Discretionary Leave[28] یا Humanitarian Protection[20] حالت درته درپه برخه شوی وي نو بیا تاسو ته د یوڅه محدودو سفرونو د اسنادو لپاره درخواست کولی شی سره له دې چې دا ډېره ګرانه پروسه هم ده او تاسې باید ددې په هکله د خپل Legal Representative[24] او یا Scottish Refugee Council سره پوره څېړنه و کړی.




*د اړینو الفاظو او اصطلاحاتو د خلاصې معناوې د لاربنود ترشا وګورئ.

## د کورنۍ د غړو سره تماس نیول:

که چېرې تاسې د جګړې او یا نورو بدبختیو له امله د خپلې کورنۍ د غړو سره مو اړیکه پرې شوې وي نوبیا د British Red Cross له تاسې سره مرسته کولای شي. هغوی کولای شي چې د نړیوالې شبکې له لارې ستاسې د کورنۍ غړې و مومي او اړیکې یې له تاسې سره ټینګې کړي. که د خپلې کورنۍ د غړو سره اړیکې ټینګول غواړې او یا Social Worker[30] Legal Representative[24] سره خبرې وکړې.

**تاسې له دوي سره په:**

**British Red Cross Refugee Unit**
Second Floor
Ashfield House
402 Sauchiehall Street
Glasgow
G2 3JD
ټیلیفون: 0141 331 4170

د Scottish Refugee Council د کورنیو د غړو د یوځای کېدلو لپاره کار کوي اما قوانین او مقررات یې سخت دي او همدارنګه انګلستان د حکومت په قانون کې داسې نه دي راغلي چې د کورینو څخه جلا شویو ماشومانو د کورنۍ غړي دې ژر تر ژره دې هېواد ته راوستل شي. خو دا کار په ډېرو نادره حالاتو کې ممکن تر سره شي.

که تاسې غواړې چې پدې هکله نور معلومات تر لاسه کړې د خپل Legal Representative[24] سره خبرې وکړې او یا Scottish Refugee council ته ورشي.

ددې سازمانونو په هکله د لازیاتو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره **لاربښود کتاب** و ګورئ